# د مور محبت

فضل وهاب میا صاحب کاکاخیل

امیر ,,تیمور،، گرگاني د کاهنول په دره کښې په عیش و عشرت مشغول ؤ. دا دره په لحاظ د سرسبزۍ ډېره مشهوره وه. ځکه په دې د سمرقند شاعرانو ,,پروازګل، نوم ایښے ؤ. په دې دره کښې د بادشاهي لښکر پینځلس زره تنبوان لګیدلي وو. او د تنبوانو د پاسه رنګا رنګ جنډې لګېدلي وې. څه وخت چې به هوا هغه جنډې خوځولې نو تا به وے چې رنګا رنګ مارغان په هوا کښې الوتل کوي. د دې خیمو په مینځ کښې د بادشاه خیمه لګېدلې وه. بادشاهي خیمه په کښې داسې معلومېده لکه د وینځو په مینځ کښې چې ملکه نۀ خطا کېږي. د بادشاه خیمه په څلورو واړو طرفه یو شان سل سل فټه پرته وه. د دریو نیزو په حساب ئې اوچتوالے ؤ. په څلورو واړو طرفه ئې د سپینو زرو یو شاهین چې د کاریګرۍ یو بهترین نمونه معلومېده کېښولے ؤ. او په مینځ کښې ززنګار تخت لګېدلے ؤ. چارچاپېره ایراني قالینونه غوړیدلي وو. د تخت نه څلور واړه طرفه د بادشاه خپلوان،وزیران او فوځي کمانډاران ناست وو. او په تخت هغه زورور بادشاه چې د هغه په تاریخ کښې د مغلوب کېدو ذکر نۀ شي موندے. شاهي ریښمین لباس ئې اغوستے ؤ. چې دپاسه پرې مروارید لګېدلي وو ناست ؤ. د عقیقو بیش قیمته ګوشوارې د دۀ په غوږو وې. او په یو رعب دار نظر ئې اخوا دې خوا کتل. ورسره نزدې په خوا کښې حق ویونکے او خوددار شاعر کرماني ناست ؤ. هغه کرماني چې یوه ورځ تیمور بادشاه تپوس وکړو چې کۀ چرې زۀ خرڅېږم نو په څومره قیمت به مې واخلې؟

کرماني ور ته اووې چې په پینځه ویشتو سپاهیانو بادشاه ور ته په ډېر قهر سره ووئیل چې دا خو زما د پګړۍ قیمت دے. کرماني ور ته اووې چې ما هم ستا د پګړۍ قیمت وکړو. ستا وجود خو د یوې روپۍ څائې هم نۀ لري. خبر دا د

خوشحالۍ بازار به ګرم ؤ. دور چلېدو سرودونه غړېدل چې په دې شور و شغب کښې يو آواز ډېر په زوره لکه د تندر د آواز د ,,يلدرم بايزيد،، د مغلوب کوونکي په غوږ کښې راغلو. دا د يوې ښځې آواز ؤ. او دومره هيبت ناک لکه چې زمرے غضبناک شي او آواز کوي د تيمور انتقامي جذبه او زخمي زړۀ چې په دې جنګ کښې د خپل ځوي د مړ کېدو په وجه سره د ټولې دنيا برخلاف د غيظ و غضب نه ډک ؤ. دا آواز ور ته آشنا شان معلوم شو. او د آواز په اورېدو سره ئې جام د لاسه پريوتو. او په ډېر حېرانتيا سره ئې ووئيل چې دا زړۀ خوشحاله کوونکے آواز د کوم طرف نه راځي؟

حکم ئې وکړو چې معلوم کړئ چې دا آواز د کومه راځي؟ د حکم په اورېدو سره څلور واړه طرف ته نوکران وزغلېدل جواب ئې راوړو چې بادشاه سلامت يوه ليونۍ ښځه ده. د شکل نه فقيره معلومېږي او غواړي چې د بادشاه سره ووينې. بادشاه حکم وکړو چې حاضره دې شي. ښځه د بادشاه په مخکښې اودرېدله. شلېدلې جامې سينه په خپلو زلفو پټه يو بربنډې ښپې اوچې شونډې،الوتے رنګ او په ډېره بې پروائۍ او بې باکۍ سره ئې د بادشاه نه تپوس وکړو چې آيا تۀ هغه بادشاه ئې چا چې سلطان بايزيد ته په جنګ کښې شکست ورکړے دے؟

تيمور ور ته ووئيل چې هو زۀ يم. او بايزيد غونډې نورو ډېرو زما په مخکښې ډال غورځولے دے. بوډۍ وايه تۀ څه غواړې؟

بوډۍ ور ته ووئيل چې واوره اے بادشاه تۀ خو چې هر څه ئې او په کوم حيثيت کښې ئې خو بيا هم يو سړے ئې ليکن زۀ يوه مور يم. تۀ د مرګ او د هلاکت خدمت کوې او زۀ د ژوندانه او سلامتۍ تۀ د بني آدم د هلاکېدو بهانه لټوې. او زۀ ئې د محبت په غېږ کښې ساتل کوم. مګر بيا هم ما دا اورېدلي دي چې ستا په عقيده کښې انصاف کول هم په طاقت کښې داخل دي. اګرچې زما يقين نۀ راځي او تر هغه به را نۀ شي چې تر څو تۀ زما فرياد وانۀ ورې. او بيا د هغې انصاف ونۀ کړې. ځکه چې زۀ مور يم يوه غمژنه مور.

بادشاه ور ته ووئيل چې تۀ په آرام کېنه او اصل واقعه بيان کړه. ښځه په ادب کېناستله. او وې وئيل چې بادشاه! زۀ د ,,سالرمو،، اوسېدونکې يم. تا به د دغه ځائې نوم نۀ وي اورېدلے. ځکه چې هغه ډېر لرې دے د دې ځائې نه ډېر لرې. زما پلار او خاوند دواړه ماهي ګير وو. د بدقسمتۍ نه يوه ورځ دوي په خپل کار مشغول وو چې دريابي ډاکه مار پرې راغلل او دواړه ئې مړۀ کړل په دې ساعت کښې دې بوډۍ په زوره زوره وژړل. او بيا ئې ووئيل چې دې ډاکه مارو ظالمانو زما ښائسته ډېر ښائسته ځوي هم د ځان سره بندي بوتلو. افسوس! څلور کاله وشو زۀ د

هغه په تلاش کښې سرګردانه ګرځم مګر نهٔ چرته د هوا مارغان او نهٔ الوتونکې سیلۍ د هغه د طرف نه څه خبر راوړے دے.

بیا بوډۍ په زوره وژړل. او وې وئیل چې بادشاه زهٔ پوهېږم چې زما ځوي ستا سره دے ځکه چې د بایزید لښکر هغه دریابي ډاکه مار بند کړل. او بندیان ئې بوتلل. او اوس تا د بایزید لښکر ته شکست ورکړو. او د هغه هر څه تا واخستل په هغه غنیمت کښې به زما ځوي هم وي. او ضرور به وي. زهٔ غواړم چې زما ځوي ماته راکړې. بادشاه چپ شو او حاضرینو د دربار وخندل چې لیونۍ ده. ,,کرماني،، ووئیل چې هو لیونۍ ده. د یوې مور په شان. بادشاه ور ته ووئیل چې بوډۍ! تهٔ څنګه د دومره لرې ځائې نه په دومره سختو غرونو ځنګلونو کښې راغلې. او د غرهٔ د ځناورو نه څنګه بچ شوې؟

بوډۍ ور ته ووئیل چې د یوې مور محبت د ډیرو لویو لویو تکلیفونو او غمونو برداشت کولے شي او هم هغه څیز زهٔ تر دې را ورسولم. او بیا ئې ووئیل چې تیموره زما ځوي ماته راکړه. ,,کرماني،، ووئیل چې د مور پرستش پکار دے ځکه چې میندې ډیر لوئې سړي پیدا کوي. د سعدي غوندې د خوږې ژبې خاوند او د فردوسي غوندې شاعر د ارسطو غوندې د حکمت خاوند د عمر خیام په شان د زلزلې غورځونکو باعیاتو خاوند دا ټول د یوې مور بچي دي. دغه شان سکندر،هومر او بهرام ګور.

تیمور د بوډۍ د خبرو په وجه په خیال کښې ډوب ؤ. سر ئې اوچت کړو او حکم ئې وکړو چې درې سوه سوارهٔ دې فوراً تیار شي. او تر هغې دې واپس نهٔ راځي چې د بوډۍ د ځوي پته ئې نهٔ وي راوړې. چې چا بیاموندو د انعام لائق به وي. بیا تیمور یو اسویلے وکړو او وې وئیل چې دا یوه مور ده محبت کوونکې ځکه ئې په زړهٔ د اور لمبې بلېږي. داسې اور چې تر کلونو او تر پېړو پېړو د سړېدو نهٔ دے د تیمور په حکم او د بوډۍ د خبرو په اورېدو د کرماني شاعرانه جذبه په وجود کښې راغله او في البدیهه ئې یو څو شعرونه ووئیل (په دې ځائې کښې د نظم ترجمه ده مګر د اوږدوالي په وجه مونږ ونهٔ لیکلو)

تیمور کرماني ته په ډېر افسوس سره ووئیل چې پروردګاره تا په پېدا کېدو کښې غلطي نهٔ ده کړې ځکه چې د حقیقت ظاهرولو دپاره ئې ستا د خوږې ژبې انتخاب وکړو. د تیمور د سوال په جواب کښې چې بوډۍ دا دومره لوئې سفر په څه طریقه وکړو؟ کرماني ووې چې ,,درراه عشق مرحله قرب دورنیست،،

## (۱۱جون ۱۹۴۰پښتون رساله)